# PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

## اروپايي ټولنه د افغانستان پارلمان لخوا د "پراختيا او شراکت د همکاريو هوکړه ليک" د تصويب څخه هرکلی کوي

*کابل، 18 جولای 2017*

نن د افغانستان پارلمان د اروپايي ټولني او غړو هيوادونو او د افغانستان اسلامی جمهوريت ترمنځ د "پراختيا او شراکت د همکاريو هوکړه ليک" تصويب کړ.

د "پراختيا او شراکت د همکاريو هوکړه ليک" د اروپايي ټولني او افغانستان ترمنځ د همکاريو لپاره لومړنی قانونی چوکاټ دی.

په افغانستان کي د اروپايي ټولني ځانګړی استازی فرانز مايکل ميلبن وايی: "زه د افغانستان د پارلمان لخواه د "پراختيا او شراکت د همکاريو هوکړه ليک" د تصويب کيدلو څخه هرکلی کوم. اروپايي ټولنه د سولي او نيمګرغی په لاره کي د افغانستان د خلکو د هڅو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. د دغه هوکړه ليک له تصويب وروسته به د بشري حقونو او بشري پراختيا، فساد سره د مبارزې، د قانون پلي کولو او کډوالی په برخه کي زموږ اړيکي لا پياوړې شي."

دغه هوکړه ليک د اقتصاد او سياست په ډيرو برخو کي لکه د قانون پلی کول، روغتيا، د کليو پراختيا، ښوونې، ساينس او تکنالوژي، او همدارنګه له فساد، پول شويي، د تروريستي ګروپونو تمويل، سازمان يافته جرايمو او مخدره توکو سره د مبارزې د خبرو اترو او همکاريو بنسټ جوړوي.

د لازياتو معلوماتو لپاره د اروپايي ټولني ويب پاڼي ته مراجعه وکړئ:
https://eeas.europa.eu/delegations/afghanistan/30014/eu-welcomes-ratification-capd-afghanistans-parliament_en ب

لاډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولني پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
برېښناليک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu